محمد هارون خپل شعشعي


۰۷ سپتمبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۳

### ۱۳۰- قُربَت ( د « ق » په پېښ او د « ب » په زْوَر) :

قربت، په لغت کي نژدې/ نيژدې والي،ځای يا مقام ته د نيژدې والي او خدای تعالی ته د نيژدې والي په مانا دئ ۱ . قربت، په تصوفي او عرفاني اصطلاح د ذکر ( پټ او ښکاره) او مخلصانه عبادت له لاري، له پروردګار سره د عرفاني سالک نيژدې والي ته وايي.

قربت، د روښاني عرفاني طريقت په اتو مقاموکي پينځم مقام دئ . په دې مقام کي د الهي انوارو او حقيقي پوهي سينه چاک پلټونکئ په ټولو کايناتو کي بې الهي اوازه بل هيڅ ږغ نه اروي/ اوري . په بله وينا، قريب عارف د بې مثله بحر په هر ږغ کي يوازي د يوه نايي يا اواز خپرونکي ( الله سبحانه وتعالی) د ثنا او ستاينې نغمې اروي؛ او د هر اواز په تسبې ( تسبيح) پوهيږي . دا بې ساري ږغونه او نغمې، د قربت مقام ته رسېدلئ سالک، نورهم د اوازونو د يوازني هستونکي او خپرونکي پر لور هڅيي . د پام وړ ټکی دادئ، چي د بقا او هستۍ له عالَمه راغلي دا بې نمونه او بې چګونه ږغونه، يوازي د زړه په غوږو اروېدل کيږي، نه د سر په غوږو؛ ځکه نو ناڅاپي نه ده، چي د قربت د مقام وښتنانو ته هغه کسان کټ مټ دکنو غوندي ښکاري، چي د هستۍ د بې مثله بحر ږغونه نسي اروېدلای؛ او په هغو کي د يوه خالق، د جلال او تمجيد ذکر نسي پېژندلای .

په اسلامي تصوف اوعرفان کي زيا تره د سُليمان (ع) او ځينو نورو پيغمبرانو د هغو کيسو يادونه کيږي، چي له مرغانو او نورو حيواناتوسره يې د حال په ژبه خبري کړي دي؛ او د بې شماره عالَمو د يوازني خالق په همېشني ذکر کي (کي يي) د هغوی ښايسته داستانونه اروېدلي دي . همدغه راز د حضرت داوود(ع) د اواز معجزې په ټولو ابراهيمي اديانو او فرهنګي رواياتو کي ژوري ريښې ځغلولي دي .

د اسلامي تصوف او عرفان تلپاته ستوري - مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق) د قربت مقام د عرفاني سالک د بشري جامي د غورځولو په مانا بولي، چي زموږ د عارف شاعر، علي محمد مخلص، په ژور عارفانه کلام کي د « تخلقوا بِاخلاق الله » ، « موت قبل ان تموت » او داسي نورو عرفاني تعبيرو په نومو ياد سوي دي . حضرت مولانا وايي :

« قرب نه بالا نه پستی جستن است
قرب حق از حبس هستی رستـن است
نيست را چه جای بالای است و زيــر
نيست را نی زود و نه دور و نه دير[۲] »

د اسلامي تصوف او عرفان نامتو انگريز پوهاند - ر. ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵ع) د اسلامي عارفانو له نظره، د قربت مقام داسي بيانيي : « کله چي د عارف روحاني سترگي پرانيستل سي، د سر سترگي يې بنديږي؛ او بې خدايه بل څه نه گوري[۳] . » پوهاند نيکلسن زياتيي : « حق تعالی هر موجود ته د دې وس او ځواک ورکړئ دئ، چي په خپله ژبه د ده ستاينه وکي . په دې ډول، د کايناتو ټول ږغونه په حقيقت کي له هغه ږغه الهام اخلي، چي لوی ښتن په هغه سره د ځان ثنا او ستاينه کيي(کوي) . هغه کسان، چي زړونه يې پرانيستي يي؛ او په روحاني پوهه نازول سوي يي، هر چيري د ده اواز اروي . د مؤذن د خواږه اواز، په کوڅه او بازار کي د اوبه ورکوونکي (سقاء) د چيغو او نارو؛ د باد د سرهار، د پسو د رمباړو او د مرغانو د چنهار په اورېدو سره، د وجد او بې سدی تر اغيزې لاندي راځي[۴] . »

د پروفيسر نيکلسن په اند، د قربت د مقام ښتن، له خدای تعالی سره په خپل راز و نياز کي وايي : « اې خدايه زه د ژوو اوازو، د ونوسرهار، د اوبو شورهار، د مرغانو ترانو، د سېلييو سورهار، د تالاندي او برېښنا غرمبهار او پرکهار او داسي نورو ږغو ته تل په دې سترگه گورم، چي دا گرده ستا د يووالي نخښي او نښاني دي؛ او په ټولو کايناتو کي ستا په شان څوک نسته . له دې امله دي د خلگو مخ ته د خدای او بادار په نامه بولم؛ خو په زړه کي درته وايم : اې زما گرانه ! [۵] »

د پښتنو نوميالي عرفاني او سياسي لاربنود- بايزيد روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) هم د قرآني آيتو او نبوي حديثوپر بنسټ، د قربت د مقام په اړه خورا ژوري عرفاني او فلسفي نظريې وړاندي کړي دي . پير روښان، د اسرأ ( بني اسرايل) د سورت د څلورڅلوېښتم آيت ( ۱۷: ۴۴) د يوې برخي « . . . تسبح له السماوات السبع و الارض و من فيهن و ان من شیء الا يسبيح بحمده و لاکن لا يفقهون تسبيحهم[۶] . . . » په استناد استدلال کيي، چي هيڅ ږغ بې ښورېدو يا خوځښته نه پيدا کيږي؛ او هيڅ شی بې الهي ځواک او قدرته خوځښت نسي کولای . نو بايد پوه سو، چي هر اواز حق دئ . ميا روښان، هيڅ موجود د جليل رب له هستی څخه جلا نه ليده؛ او داسي هيڅ ږغږ يې نه اروېده، چي د حق تعالی تسبې/ تسپې او ستاينه ونه کړي[۷] .

پير روښان، د سپېڅلي قرآن د بقرې د سورت د اتلسم آيت ( ۲: ۱۸) « صم بکم عمی فهم لا يرجعون[۸] » د لاربنووني له مخي، هغه کسان کاڼه، گونگي او ړانده بولي، چي په هر اواز کي د حق ږغ نه اروي . کاڼه په دې مانا، چي د حق اواز نه اروي؛ گونگي په دې مانا، چي د حق خبره نه کيي؛ او ړانده په دې مانا، چي حق په سترگو نه ويني[۹] .

زموږ مفکر عارف ، علي محمد مخلص ، په خپله عرفاني شاعرئ کي د قربت د مقام او د هر اواز د تسبو په اړه داسي ژوري او هر اړخيزي خبري کړي دي ، چي د مانا او ښکلا له اړخه يې د لوړو عرفاني

مخکښانو په لیکنو کي ډېر لږ ساری لیدل کیږي . هغه، د قرآن کریم د ق د سورې د شپاړسم آیت ( ۵۰ : ۱۶) له امر سره سم، انسان ته په خطاب کي د لوی ښېښتن د قربت عرفاني فلسفه، داسي بیانیي :

ح حاظر نـــاظر دي رب دئ
ته غایب شوي دا عجب دئ
سترګي روښي کړه وګوره!
دی تر تا و تا اقـرب دئ
نحن اقرب الـیـکه
در نزدي تر رګ، عصـب دئ

په یوه ښایسته غزله کي د اوازو د هستونکي، د اوازو د تنوع او په ټولو اوازو کي د نغښتي الهي ذکر و ژوري عرفاني مسألي ته داسي ګوري :

دیوه بحـــره غوټي یي ځرګنــدیږي
له یوه بحره آواز په ځو انګاز شـي
د زړه غوږ که دي شنوا شي و به واروې!
په هر ني کښي د یوه نایي آواز شـــي
چي آواز له غیر نه آروي په غــوږو
هغه کس ګورم مین په سور وساز شـــي
چي یي فهم په تسبیح د هـر آ واز وي
و عارف ته هر آواز بانګ نماز شـــي

***

د نایي په دم آواز ځرګنــد له نی شي
بي نایي د نـــی آواز دئ لا یـــجوزه
چي آواز د نایي نه ګوري ړوند، کوڼ دئ
په تمیز، عقل کښي ډېر کم دئ له یوزه

په بله غزله کي د قربت مقام، د هر سالک مقام نه، بلکي یوازي د نبیانواو ولیانومقام ګڼي :

هر اشیأ چي په زمین یا په سمـا ده
کُل د حال په ژبه ذکر که ګویـا ده
د نبي او ولي غوږ پرې شنوا شــوئ
د منکر له غوږه پټه دا نـدا ده

د قربت مقام ته د همدې لوړ ارزښت له امله دئ، چي مخلص په یوه بله غزله کي، د معرفت پر غوره مقام د قربت، لوړوالی او ښه والی داسي بیانیي :

د قربت مقـام بالا ترمعرفت دئ
نن په دا مقام حاصل شه نزدېکت ښه
د آواز له معرفته به خبر شــي!
لــه تسبیحه به یي بیا مومي لذت ښه

د مخلص د عرفاني دید له مخي د قربت  لوړ مقام ته  یوازي هغه عارف رسېدلای سي، چي د یوه محبوب په مینه کي دواړو جهانو ته شا کي :

که قربت غواړې تر دواړو کونو تېر شه!

مقربو پرېښوول کښي قربت بیاموند

د مخلص په باور د اواز همدا لاهوتي منبع ده، چي د حضرت داوود (ع) وږغ تې ( ته یې) معجزه ناکه اثر ور بخښلئ ؤ؛ او د اروېدو په مستی او بې هوښی کي بې ( به یې) د مځکي پر مخ بېلابېلو ژوو له خپل ژوند او هستی سره بازی کولې . د ده په عارفانه بیان کي د اواز دې جادویي اثر ته داسي کتنه سوې ده :

د آواز صفت به وکښم ښه اواز دئ دلفرېبــه

آهو ځان کښېږدي و تېغ ته د احسن اصوات له زېبـه

دداؤد له  ښه آوازه  چي آغاز یې کړئ له نیــازه

غرونو، ونو به جُنبش که، حیوان ډېر مره  بې حسېبـــه

په یوه پاړسي مثنوي کي له ټولو مخلوقاتو او موجوداتو سره د حق تعالی  قربت په یوه ښه بولي :

« . . . قربت حق به اسفل و اعلی یکیست

اول و آخر درین دریــا یکیست

قربت حق با همه یکسان بـــود

گر مَلَک یا دیو یا انــسان بود۱۰ . . . »

بل ځای، دا عرفاني نظریه وړاندي کيي، چي د کایناتو پر مخ  هر ږغ د حق تعالی د مهربانی یا غوسي ښکارندوی دئ؛ او یوازي هغه څوک په دې رازو پوه ګني، چي خپله هستي ډوله نېستي یې د نېستي ډوله هستی په مینه کي هېره کړې یې :

« . . . جُمله عالَم چون نی و حق نایی است

این بداند آنکه از خود فانــی است

هر ندایی را که از حق بشنــوی

خالی از دو حال نبود ای قــوی

یا بود از رحم یا از قهر آن

تو ز قهرش دور بگریز ای فـلان

آن ندای رحم رحمانی گــزین

که از آن یابی هدایت هم یقین ۱۱ . . . »

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ :  شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، وصلت،  وحدت، سکونت ، سماع او وجد او داسي نور .

**لمنلیکونه**

۱ عمید ۳: ۱۸۸۲ـ ۱۸۸۳ .

۲ وردی، « تعلیقات، » زبدة الحقایق ۱۳۱.

3 Nicholson 7.

4 Nicholson 64.

5 Nicholson 7 – 8.

۶ ژباړه : . . . اووه  اسمانونه او مځکه او د اسمان او مځکي تر منځ  هر موجود شی، د ده تسبې وایي . په ریشتیا سره داسي شی نسته، چي د حق تعالی تسبې او ثنا ونه وایي؛ خو تاسي د هغو په تسبو او ثناویلو نه پو هیږئ  . . .

۷ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۴۹ .

۸  ژبا ړه : هغوی کاڼه، ګونګیان او ړانده دي، نو ( له بې لارۍ څخه)  نه را ګرزي .

۹  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۱۳۲- ۱۳۳ .

۱۰ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۳۵۰ .

۱۱ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۳۵۰- ۳۵۱ .

پاته لري